لیکوال: هاری تاریخ 18/09/2009

# حامد کرزي ته د ژورنالیستانو د کمیټي لیک

د ژورنالیستانو د ساتني کمیټه
په نړی کي د خبریالانو مدافع ټولنه
سپتمبر ۱۵، ۲۰۰۹

**نوټ:** په واشنګټن کي، د ژورنالیستانو د ساتني کمېټي په کندهار کي د محلي چاروا‌کو لخوا د بې کسه کندهاري خبریالانو د پرله پسي قتلونو او ازار په ارتباط ښاغلي حامد کرزي ته یو سر خلاصی لیک خپور کړی دی چي دلته یي تاسو کټ مټ ترجمه لولی. که څه هم زه شخصا د حامد کرزي څخه د هیڅ ډول خیر، عدالت، او اقدام تمه نلرم، خو د ځینو نژدې او محترمو دوستانو د ټینګار په وجه مي دا لیک ترجمه کړ. زه یقین لرم چي د حامد کرزي له نامشروع اوملي ضد حکومته د خیر او انصاف غوښتنه پوره ساده ګي او حماقت دی، او زه الحمدالله دونه ساده او احمق خو لا نه یم. زه د حامد کرزي حکومت د ټولو افغانانو او په تېره بیا د پښتنو سره په دښمنی، جفا، او ظلم متهموم، او له حامد کرزي او د هغه له داخلي او خارجي حامیانو څخه کرکه لرم، او د خدای لعنت پر وایم.

**جمهورریس حامد کرزی:**
د ژورنالیستانو د ساتني کمېټه په کندهار کي د خبریالانو د شرایطو او امنیت په باب اندېښمنه ده. له ډېر وخت راهیسي، کندهار د طالبانو فعالیتونو بي ثباته او نا ارامه کړی دی، خو د جمهوري ریاست د وروستي انتخاباتو راپېدي خوا د کندهاري خبریالانو لپاره وضع لا خطرناکه سوې ده. د یوې خوا، د کندهار ژورنالیستان هره ورځ د یاغیانو له حملو او بریدونو سره لاس او ګریوان دي، او له بلي خوا، ګڼ شمېر کندهاري خبریالانو زموږ کمېټي ته ویلي دي چي دوی د وهلو، توقیف، او تر ټولو بده لا دا چي د خپلو رپوټونو په خاطر د تهدید، کسات، او مجازاتو سره مخامخ دي.

د کندهار خبریالان وایي چي دوی په خاصه توګه د هغو تهدیدونو په باب اندېښمن دي چي د کندهار ولایتي شورا چاروا‌کو او مسولینو ورته مخامخ کړي دي. د ولایتي شورا ریس ستا وررور احمد ولي کرزي دی چي ستا د انتخاباتي کمپین مدیر او مینېجر هم دی. د ګڼ شمېر مطبوعاتي مرکزونو د خبریالانو په شمول د ازادی راډیو، پژواک خبري اژانس، او د کندهار اونیزه اخبار «سورغر» زموږ ټولني ته ویلي دي چي د کندهار پولیسو او عالي رتبه چاروا‌کو بیابیا د دوي خبریالان تهدید او ازار کړي دي. یو خبریال چي د کسات او مجازاتو له ډاره خپل نوم نه سي یادولای، موږ ته وویل چي ښاغلي احمد ولي کرزي په ټیلفون کي مخامخ تهدید کړی دی.

د کندهار چاروا‌کو د سورغر کار کونکي وروسته له هغه تهدید کړل چي همدي اخبار چي په پښتو او انګلیسي خپرېږي د عامه افکارو هغه سروې خپره کړه چي هدف یې پدې انتخاباتوکي تر ټولو محبوب کاندید نومول وو. دغه راز، د سور غر اخبار د نیویارک ټایمز او واشنګټن پوسټ هغه رپوټونه خپاره کړل چي احمدولي کرزی یې د مخدره موادو د قاچاق او کاروبار او همدا راز یې پر هغه باندي په انتخاباتو کي د ټکي برګي تور لګولی وو. په کندهار کي، د هنداري مجلي مدیر، ښاغلي غوث الدین فروتن، د ژورنالیستانو د ساتني کمېټي ته وویل چي د سورغر اخبار د مستقلو، ازادو، اورشتینو رپوټونو په خاطر په عامه خلکو کي پراخ او سراسري ملاتړ او لوستونکي لري. د هنداري مجله په کندهار کي د هنداري د کلتوري ټولني لخوا خپرېږي. ښاغلي فروتن دغه راز په ټیلفوني مرکه کي د ژورنالیستانو د ساتني کمېټي ته وویل، «سورغر واقعاد خلکو د زړه خبري او دردونه خپروي.» هغه زیاته کړه، « ټیلویزیون او راډیو دغه مسایل نه خپروي.»

یو بل خبریال چي د محلي چاروا‌کو له ډاره د خپل نوم له ذکرولو څخه ډډه کوي، وایي د ولایتي شورا چاروا‌کي چي ستا وررور یي ریس دی د هغه د اخبار کارکونکي تهدید کړي دي، او هم یي د هغوی د مجلي د خپرېدو مخنیوی کړی دی. هغه وایي د کندهار یوه چاروا‌کي ورته وویل، «د احمد ولي کرزي سره خبري وکړه، له هغه څخه اجازه واخله. که چیري هغه اجازه در کړه بیا به موږ هم په ډېره خوشحالي ستاسو د مجلي خپرېدو ته اجازه در کړو. » هغه له کندهاره پخپل یمېل کي د ژورنالیستانو د ساتني کمېټي ته وویل، « په کندهار کي، خبریالان په خطرناکوشرایطو کي ژوند کوي. که چیري هغوی د کندهار واکمنانو ته غوږ و نه نیسي، هغوی خامخا تهدیدېږي.»


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې د احمدولي کرزي دفتر ته څو ځله ټیلفونونه وکړه څو پدې باب تبصره وکړي، خو هغوی ټیلفون پورته نه کړ.

د پژواک خبري اژانس ریس، ښاغلي دانش کروخېل له کابله په یمیل کې د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې ته وویل،« په کندهار کې حالات واقعا خراب دي.» هغه زیاته کړه محلي چارواکي د خبریالانو سره هیڅ همکاري نه کوي.

د بي بي سي او رویټرز پخوانی خبریال، میرویس افغان، د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې ته وویل هغه مجبوره کړای سو چې له کندهاره وتښتي، ځکه د کندهار عالي رتبه مامورینو هغه نیغ په نیغه تهدید کړ. هغه له لندنه په یمیل کې د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې ته وویل، « د طالبانو د رژیم له ړنګېدو راپدې خوا خبریالا ن تل تهدید سویدي، خو پدې وروستیو ورځو کې دا تهدیدونه لا ډېر سویدي.» د ژورنالیستانو د ساتني کمېټه باور لری چې که چیري محلي مامورین د خبریالانو کړولو او تهدید ته همدا شان دوام ورکړي، ډېر نور خبریالان به تبعید او د وطن پرېښودېدو ته اړ سي.

د اګسټ پر ۱۹ مه، ستاسو حکومت په ګرده هېواد کې له ژورنالیستانو څخه وغوښتل چې د انتخاباتو په جریان کې د حملو او بریدونو رپوټونه ور نه کړي، څو رایه ورکونکي و نه ډارول سي. د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې په کابل کې دېره له څو خبریالانو سره ددغه خنډ په باب چې ستاسو حکومت د هغوی په وړاندي ایښی وو، خبري وکړې. د محلي رپوټونو په اساس ،په کندهار کې پولیسو د ازادی راډیو خبریال،ښاغلي مینه پال، سخت وډباوه، او د اګسټ پر ۲۶ مه یې د هغه اسباب او وسایل د هغې پېښې په محل کې ضبط کړل چې لږ تر لږه ۴۰ تنه پکښې وژل سوي او په لسهاوو نور پکښې ټپیان سوي ول.

د کندهار ستونزي نوي ندي. د مارچ پر ۱۰ مه، وسلوالو خلکو محلي خبریال، جاوید احمد، باندي باړونه وچلول او ځای پر ځای یې قتل کړ. د ښاغلي جاوید احمد د قتل حالات لا تر اوسه پټ پاتي دي. هغه یو ازاد خبریال وو. هغه د کاناډایي ټیلویزیون او نورو خبري موسساتو سره کار کاوه. ښاغلي جاوید احمد د امریکایي قواوو لخوا په بګرام کې بندي سو او تیک ۱۱ میاشتي یې بند کاټ کړ، څو باالاخره د ۲۰۰۸ په سپټمبر کې ازاد سو. یو شمېر خبریالان ټینګار کوي چې د جاوید احمد په قتل کې د افغان حکومت لاس وو، خو د ژورنالیستانو د ساتني کمېټې تر اوسه لا دا نه ده معلومه کړې چې جاوید احمد چا قتل کړ. د کندهار پولیس لا تر اوسه هم د هغه د قتل په باب کامیابه تحقیقات ندي کړي. همدي واقعیت د جاوید احمد نور همکاران سخت اندېښمن کړي دي.

د ژورنالیستانو د ساتني کمېټه په کندهار کې د خبریالانو شرایط په غور څاري. دغه راز موږ د افغان حکومت مشکوک اعمال، تهدیدونه، او حملې هم څارو. د ژورنالیستان تعقیب او ازار د هغې دیموکراتیکي پروسي خلاف کار دی چې تاسو یې د ملاتړ ادعا لري. موږ تاسو دېته رابولو چې خپلو محلي چارواکو ته امر ور کړئ چې سمدستي د خبریالانو او مطبوعاتو کړول او ازار بس کړي او یوه داسي فضا ایجاد کاندي چې خبریالان پرته له ډار څخه خپلي دندي ته دوام ورکړي.

پدې باب ستاسو له پاملرني څخه مننه کوو.

په درناوي

جویل سیمون

اجرایوي مدیر


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de